محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۷/۱۱

# د عبدالمالک بېکسیار نثر

## ساده بریښي، خو آسانه نه دئ

### دوهمه‌برخه




مخکي تر دې چي د بېکسیار د نثر د هنري ځانګړنو سپړنه نوره هم وغځوو، ښه به وي چي د دې کتاب پر یوه بل مهم اړخ هم لږ تم سو تر څو دا لیکنه د یکنواختۍ خوا ته ولاړه نه سي. د کتاب پر سرلیک او هغي ادبي اصطلاح چي خپله لیکوال د خپل اثر لپاره غوره کړې ده به یو نظر واچوو. د کتاب سرلیک «شرم له سپي» دئ، او تر عنوان لاندي ئې «چکرنامه» لیکلې ده چي په دې سره بېکسیار د اثر ژانر لوستونکو ته ورپېژني.

**چکرنامه**

اعتراف کوم چي په لومړي سر کي دا نوم ما ته بشپړ قانع کوونکی نه ښکارېدی. دا کلمه، په خپله، خورا زړه راښکونکې او د تأمل وړ ده. د صرفي جوړښت له پلوه د دوو اشنا ټکو، «چکر» او «نامه» له یوځای کېدو څخه جوړه سوې ده. «نامه» د فارسي او پښتو د لرغوني ادبي دود یوه پېژندل سوې برخه ده. دا کلمه سمدستي ذهن د لیکلي روایت، ثبت، راپور، یا د یوې تحریر سوي ځانګړي موضوع پر لور بیایي. موږ ئې مثالونه په «سفرنامه»، «شاهنامه»، «سال‌نامه»، «بابرنامه» او داسي نورو مرکبو لغاتونو کي وینو. تر دې لا په زړه پورې برخه «چکر» ده. په ورځنۍ پښتو کي چکر عموماً د لنډ مزل، ګرځېدو، تفریح، یا بې تکلفه تګ راتګ معنی لري، یعني د رسمي سفر جدي بڼه نه لري. که «سفرنامه» د یوه سفر روایت وي، نو «چکرنامه» په لومړي نظر د هغو لنډو ګرځېدنو د ثبت ژمنه کوي چي انسان ئې د ژوند په بېلابېلو شېبو کي تجربه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

تر لوستلو مخکي مي په طبيعي ډول دا ګومان کاوه چي دا به د چکرونو، سفرونو او ګرځېدنو مجموعه وي. خو د کتاب له لوستلو وروسته له يوې ډېري پراخي نړۍ سره مخامخ سوم چي په هغه کي خاطرې، د ماشومتوب کيسي، شخصي يادونه، ادبي ناستي، ورځنۍ مشاهدې، د ځانګړو شخصيتونو انځورونه، د ژوند د تجربو روايتونه، تاملونه، سريزې، او د ليکوال د ژوند له بېلابېلو کونجونو راټولي سوي پېښې سته. دا ټول نو چکرونه څنګه کېدای سي؟

همدا پوښتنه زما په ذهن کي تر هغه وخته پاته وه چي د استاد آصف بهاند هغه ليکنه مي ولوسته چي د ښکسيار د همدې کتاب په اړه ئې کړې ده. هلته خپله ښکسيار دا څرګندوي چي غواړي «چکرنامه» د پښتو ادبياتو د ژانرونو په لړۍ کي د يوې نوي ادبي بڼي په توګه ځای ومومي. همدې خبري زه اړ کړم چي خپل لومړنی برداشت له سره وارزوم.

ادبي تاريخ موږ ته دا رازده کوي چي هر منل سوی ژانر، په خپل پيل کي، يو نوښت وو. هېڅ نوې ادبي بڼه له لومړۍ ورځي د ټولو له خوا نه منل کېږي، بلکه ورو ورو، د ليکوالانو د پنځونو په مټ، خپل ځای پيدا کوي.

کېدای سي ښکسيار هم «چکرنامه» يوازي د فزيکي چکرونو او ګرځېدنو لپاره نه وي کارولې، بلکه د ټول ژوند د ادبي سفر لپاره ئې غوره کړې وي، هغه سفر چي په حافظه، ليدنو، خاطرو، مشاهدو او انساني تجربو جوړ دئ.

که د هغه مقصد همدا وي، نو «چکرنامه» له خپلي ورځنۍ معنی څخه رااوړي او په يوه پراخ، استعاري او ادبي مفهوم بدلېږي. او ښايي د «چکرنامې» اصلي معنی هم همدلته پټه وي. ښکسيار يوازي د خپل کتاب لپاره نوم نه ټاکي. هغه د يوې نوې ادبي بڼي د نومولو هڅه کوي. د استاد آصف بهاند خبره زه هم تکراروم چي دا پراخ تعبير به په راتلونکو کلونو کي د پښتو د ادبي نقد په ډګر کي د يوه منل سوي ژانر په توګه ځای ومومي که نه، دا هغه پوښتنه ده چي جواب به ئې وخت ورکوي.

د کتاب د منځپانګي به اړه يوه بله موضوع هم د يادولو وړ ده. ښاغلي نعمت الله صديقي، په خپل درانه نظر ، د دې کتاب ليکني «کالمونه» بللي دي. زه د هغوی نظر ته بشپړ درناوی لرم، خو په ډېر درنښت سره بايد ووايم چي ورسره همږغی نه يم.

په ژورناليزم او ادبي خپرونو کي «کالم» يوازي د لنډوالي يا موضوع له امله نه پېژندل کېږي. کالم هغه ليکنه ده چي په منظمه توګه په ورځپاڼه، مجله، دوره يي خپرونه يا ويبپاڼه کي، اکثره وخت تر يوه ثابت سرليک لاندې، په دوامداره ډول خپرېږي. د يوه کالم پېژندنه يوازي په سبک نه وي، بلکه په پرله پسي خپرېدو، دوام، او د ليکوال او خپرندوی تر منځ په همېشنۍ اړيکه هم ولاړه وي.

د ښکسيار دا مضامين په خپل اصل کي د خاطرو، تاملونو، مشاهدو، ادبي راپورونو او ادبي ټوټو په توګه، په خپلواک ډول، زما له معلوماتو له مخه پر فېسبوک خپرېدې. د دې لپاره نه وې ليکل سوي چي د يوې پرله پسي ورځپاڼي يا مجلې د کالمونو لړۍ جوړه کړي. که څېري ځيني ئې په ويبپاڼو يا چاپي خپرونو کي راڅرګندي سوي هم وي، بيا ئې هم خپلواکي له لاسه نه ده ورکړې. نه د مسلسل خپرېدو محتاجې دي، او نه ئې هويت د يوې ځانګړي خپروني له دوام سره تړلی دئ. هره يوه ئې په خپله بشپړه ده او د بلې ليکني له مرستي پرته هم لوستل کېدای سي. همدا لامل دئ چي زه ئې «کالمونه» بللو ته زړه نه ښه کوم.

بېرته به راوګرځو وخپلي اصلي موضوع يعني د ښکسيار د نثر ځانګړتياوو ته. ويليم هينري هډسن خپل په کتاب اين انټروډکشن ټو د سټډي اف لټريچر (هډسن، ۱۹۱۳ يولسمخ) کي ليکي چي ستر کتاب د ژوند له زړه راټوکېږي. د هغه په لوستلو سره انسان له ژوند سره په داسي نوو، ژورو او نژدې اړيکو تړل کېږي چي پخوا ئې نه وي احساس کړي او د همدې اړيکو په برکت د هغه د اغېز او ځواک راز هم راڅرګندېږي. ادب د انسان د ژوند ژوندی هنداره ده.

هغه څه پکښي خوندي کېږي چي انسان ليدلي، تجربه کړي، او د ژوند د هغو اړخونو په اړه ئې احساس او اند کړي چي د هر انسان لپاره تلپاتي ارزښت او معنی لري. ځکه نو ادب، په خپل اصلي جوهر کي، د ژبي په جامه کي د ژوند هنري او رښتيني انځور دئ.

همدا ځانګړنه د ښکسيار د نثر ادبي ارزښت هم ثابتوي. د هغه ليکني له ژوند څخه راټوکېدلي دي او د ژوند بېلابېل رنګونه او حقيقتونه په رښتينولی انځوروي. لوستونکي يوازي د ده ادب پارې نه لولي، بلکه د ژوند روان بهير هم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

ورسره احساسوي. همدا د ژوند او ادب ترمنځ نژدې اړيکه ده چې د بېکسيار ليکنو ته تلپاتې ادبي ارزښت وربخښي. د بېکسيار له خاطرو څخه به يوې ته ورسو او وګورو چې دا تولي ځانګړتياوي په عمل کې څنګه راڅرګندېږي.

په «بهايي جانه خبر نه يې له بېلتونه» کې بېکسيار د خپل پلرني کلا يادونه کوي، هغه پراخه کلا چې څو نسلونه او د کورنۍ ګڼ غړي به يو له بل سره يکښې اوسېدلي او اوسېدل او بېلابېلي خوني ئې درلودې. د همدې کلا د خپل تره په خونه کې دی په لومړي ځل د ملي سندرغاړي استاد بېلتون له خوږ او زړه راکښونکي ږغ سره اشنا کېږي. همدا ساده خاطره وروسته د هغه د هنري ذوق او عاطفي نړۍ يوه نه هېرېدونکې برخه ګرځي. راځئ چې د ادب په جادويي هنداره کې د ده دا يادونه په ګډه ووينو، چې ده داسي بيان کړي دي:

«دغې خونې د نورو تولو خونو خلاف يوه لويه ښېښه يې کړکۍ لرله چې اشه داره يې بلله، په اشه داره کې به يوه غټه توره پلپس راډيو له سهاره تر بېګا چالانه وه، د ورخې له مخې به اشاره داره پرانيستي او د راډيو مخه انګړ ته، او د شپې له مخې به اشاره داره تړلې او د راډيو مخه به د خونې لور ته وه. د خدای ببنلي بېلتون، سلام، دوري او ډېرو نورو هنرمندانو له غږ سره زه هماغه د تره د خونې اشاره داره کې د ابيني توري غټي پلپس راډيو له لارې اشنا شوم، او بيا تر ننه چې د بېلتون او ډېرو نورو هنرمندانو غږونه اورم نو دا هرڅه هرڅه مې په ذهن کې را تداعي کېږي.
...خو د استاد بېلتون غږ مې لکه لومړنۍ مينه هېڅکله هم هېر نه شو. او چې هر ځای او هر کله يې واورم لکه د بوت جامد او ساکت شم، د تره د خونې اشه داره او توره غټه پلپس راډيو مې سترګو کې کنګل شي...

او بيا پسله ډېرو کلونو بېکسيار په مهاجرت کې خپله دا لومړنۍ مينهويني او داسې ليکي:

... د پېښور خيبر بازار يونيورسټي بوک سټور مخکې ولېده، دی بس ته ولاړ و، او زه له يو پنډ کتابونو سره له دوکانه راووتم، سپيني خولو خوړلي افغاني جامې، پلاسټيکي شلېدلي چپړې په پښو، تک سپين وېښتان ـ نه کورتی، نه لونګۍ، نه واسکټ، نه پټو، نه څادر.

جيب مې له پيسو ډک وه، غوښتل مې مرسته ورسره وکړم، جامې، بوټونه او واسکټ ورته واخلم، او ورته ووايم چې زه يې د آواز سره مينه لرم، خو لکه مين چې د خپلې مينې مخکې ګونګی شي، ما هم دا جرات و نشو کولای، ما وې هسې نه غوسه شي، هسې نه ځان ورته کم و نه ابسي، هسې نه... او چې څو زه له خپلو دغو سوچونو راوزګارېدم استاد بېلتون په يوه پښه يوه بس پورې ځړېدلی له سترګو پناه شو.
پاک رب دې استاد بېلتون د جنتونو سردار کا. امين»

(بېکسيار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسيک خپرندويه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۳۳۷ ــ ۳۳۹ مخونه)

ادب يوهنې هيڅکله يوه کيسه يوازې د هغې د موضوع له امله نه ده ارزولې بلکه تل ئې دې ته کتلي دي چې هغه کيسه څنګه ويل سوې ده. هره پېښه، که هر څومره ښساري هم وي، تر هغو يوازې يوه پېښه ده تر څو چې د يوه هنرمند له تخيل څخه نه وي تېره سوې. د ژوند خام مواد هغه مهال ادبي بڼه خپلوي، چې د انتخاب، تناسب، جوړښت، هم اهنګی او بيان د هنر په وسيله وپالل سي.

هره بريالۍ کيسه يوه پټه معماري لري. په هغې کې هيڅ شی تصادفي نه وي. پيل ئې لوستونکی په نرمی ځان ته راجلبوي، هره جمله ئې تلوسه نوره هم ور ژوره کوي، تمځای او چوپتيا ئې خپل هنري مقصد لري او پای ئې داسي انګازه پرېږدي چې د وروستی کلمې تر لوستلو وروسته هم د لوستونکي په ذهن کې ژوندی پاته وي. لوستونکی بنايي کيسه په يوه دقيقه کې پای ته ورسوي، خو کيسه بايد په هماغه يوه دقيقه کې له لوستونکي څخه خلاصه نه سي. راځي د بېکسيار يوه داسي لنډه شه پاره « د بې وطنی درد» په ګډه ولولو:

«ډنمارکيانو به د کډوالو کمپ کې کله کله کډوالو ته د پام اړولو په نيت د جمعو په شپو يوه نيمه غونډه/ ناسته، پاسته/ د سندرو، نڅا څه محفل يا دې ته ورته کوم څه جوړول.
يو ځل په کمپ کې د اوسېدونکو د پاره دريز خلاص پرې ايښی و، مانا چې د هرچا هرڅه زده او ور په زړه وي وړاندې دې کړي.
دلته نو د محفل په شروع د يوه لبناني او په يوه پښه معيوب فلسطيني سره ورانه شوه. هغه فلسطيني همدا زموږ دهليز کې اوسېده او کله ناکله به يې له خونې د يوې ګيتار وزمه نغمې ورمه راتله، ټولو يې د معيوب توب او همدې هنرمندی په پار احترام کاوه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

لبناني چې غوښته یې یوې عربي مستي سندرې سره نڅا او لپسنګ وکړي، فلسطیني ته یې په دیوال لګولي نقشه په ګوته کوله او ویل یې چې هغه نقشه کې دې وطن پیدا کړه او بیا راشه لومړی خپل هنر ننداری ته وړاندې کړه. ما او د سرې میاشتې دوه چاروا‌کو چې د درېز په سمبالولو کې مرسته سره کوله تر منځ د روغې جوړې خبرې وکړې او دواړه غاړې مو ارام ته سره وبللې خو فلسطیني زړه ماتی او خپه شو.
وروسته بیا دغه لبناني ښځه هم ترې وغوښته خو خبره له خبرې تېره وه، زموږ ټولو تالار ته راغلو میلمنو په بیا بیا غوښتنو چمتو نه شو ... یو وخت ورو ورو د هماغې خوږې موسیقۍ غږ را وچت شو چې ما به کله کله خپل دهلېز کې لمس کوله، ټول هېښ شول، د خلکو په خولو کې خبرې وچې شوې، مجلسونه بند شول، ټول محفل د تالار پای تیارې سره د خالي شوو چوکیو منځ کې هغه کس ته کتل چې له ټولي نرۍ مرور مخ دیوال ته ناست و.
هغه دغږي ترانګي په یوه تیاره بې برېښنا څمکتلخونه کې د خلکو له نظره پنا د خپلي لګېدلي پېني پالني پر مهال په خپل لاس د موسیقۍ دغه اله چې عود نومېده ځانته جوړه کړې وه. ما د عود نوم هماغه شپه زده کړ.
د یوې بې سر و پای نغمې په پای کې چې موږ ټولو هغه ته په شپږو شپږو چکچکې ووهلې، ورته ولاړ شوو نو یې مخ راواړاوه اوښکې یې رواني وې، موږ ټولو ته یې وویل چکې مه راته وهئ، راته وژاړئ، ما تاسو ته د خپلې بې وطنۍ درد وغږاوه. تر هغې ورځې راوروسته پدا دومره کلونو کې بیا زه له خورا بېلابېلو کلتورونو او فرهنګونو سره اشنا شوم، په هېوادونو وګرځېدم، بېلابېلي موسیقۍ مې واورېدې، خو هغه غږ مې بیا هېڅکله لمس نه کړ، پر یوتیوب د عود په زرګونو نغمې شته خو هغه د بې وطنۍ نغمه نه ترې لټېږي.» (۱۱۴-۱۱۲ مخونه).

(بېکسیار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۱۱۲ ـ ۱۱۴ مخونه)

دا هغه لیکنه ده چې لوستونکي ئې ښایي په یوه یا دوو دقیقو کې ولولي، خو اغېز ئې د وروستۍ جملې په پای ته رسېدو پای ته نه رسېږي. برعکس، کیسه له لوستونکي سره پاته کېږي، ذهن او احساس ئې بوخت ساتي، او د اوږدې مودې لپاره ئې له حافظې څخه نه وځي.

د نړۍ لوی کیسه لیکونکي ښه پوهېدل چې ادبیات د پېښو ساده راغونډول نه دي بلکه د اغېز یو هنري تنظیم دئ. کیسه د خپل چاپېریال، کرکټرونو، شخړې، تلوسې، سمبولونو، انځورګرۍ، ناویلو معناوو، طنزي تناقضونو او عاطفي اغېزې له لارې ساه اخلي. هغه پوهېږي چې څه وخت حقیقت څرګند کړي او څه وخت ئې پټ پرېږدي، څه وخت خبرې وکړي او څه وخت چوپتیا پر الفاظو غوره کړي. غوره کیسې نه په بېځایه اوږدوالي اخته وي، نه د ژورتیا په لټه کې پېچلې کېږي، او نه د ساده ګۍ په نوم خپل هنري ارزښتونه له لاسه ورکوي. هره هنري پنځونه عادي شیانو ته نوې بڼه ورکوي، او هغه څه چې حتمي ښکاري، هغه ته د حیرانتیا رنګ ورپه برخه کوي.

د بېکسیار خاطرې بیا بیا همدا ادبي انضباط ثابتوي. په ظاهره دومره طبیعي او بې تکلفه ښکاري چې سړی فکر کوي بې له کوم زحمته لیکل سوي دي، حال دا چې تر شا ئې د هنر ډېر دقیق کنټرول ولاړ دئ. د دې روان نثر تر شا د کیسې د تلوسې د ساتلو هنر، د مکالمو د اهنګ پېژندنه، د لحن حساس درک، او د لږو الفاظو په وسیله د ډېرو خبرو کولو وړتیا پرته ده. هغه نه لوستونکی په بې ځایه تفصیل ستړی کوي، او نه له هغو شیبو په بېړه تېرېږي چې د تم کېدو او فکر کولو ارزښت لري. لکه یو ماهر خطاط چې د قلم هره کرښه ئې په ډېره اسانۍ لیکل سوې ښکاري، خو تر شا ئې د کلونو ریاضت، تمرین او حوصله پرته وي، بېکسیار هم خپل هنر دومره په طبیعي ډول د کیسې په وجود کې ورګډ کړی دئ چې لوستونکي د لیکوال صنعت نه، بلکه فقط کیسه ویني.

لاندې به د لیکوال یوه بله خاطره ولولو چې له پورتنیو هنري ځانګړتیاوو څخه مالا مال ده:

### د غاټولو کرونده

په ماشومتوب کې د چوغکو، سایرو، کلسرو، قرلاقو ... شوقي وم. شوقي څه، بل مې څه کار وو نه، بس ټول منی - ژمی به زه او همدا چاره. د مني یو ژېړی مازیګر چې موږ ماشومان لیکه پیټاوي ته ناست او لا له ښوونځي د ژمي په مخه رخصت شوي هم نه وو، د مرغیو کار وبار مو هم نه و لا را پیل کړی، چې یوه لویه ګله سایرې د کلي شا ته د زردالو په باغ راښېښه شوې. په اوله کې خود بېلا بېلو ونو په سرونو کې تیت، پرک سره ناستې وې، خو تر دم ګړۍ ځار او ډاډ وروسته د زردالو هغې نرۍ، دنګې ونې ته ور ټولې شوې چې پاڼې یې د یخنۍ په وجه وچې شوې خو وې، خود ونې د څه مرض او یا بې وخته یخنۍ په وجه له ونې رارژېدلې نه وې، او لا هماغه شان شنې وچې په ښاخونو پورې نښتې پاتې وې.
موږ ماشومان ټول داسې چوپ چاپ ناست وو، لکه زبون مو چې وهل شوی وي. دوی چې څو دغې ونې ته ور ټولېدې غږ، زوږ یې خوت. یو یو ځل به لا د دوه وو سره جګړه شوه، چې یو به ترې بېرته نورو ونو ته وتښتېده، خو درنګ ساعت ته به بېرته هماغې وچو پاڼو والا ونې ته ور والوتله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

پدې منځ کي لمر هم له غره پنا او د ماښام خړه راخوره شوه. د سايرو شور، زوږ هم ختم شو. پدغه ورځ زموږ ماشومانو په ډله کې يو بر کلي وال هلک چې په کلي کې نه پوهېږم د چا مېلمه و هم شامل و، دی تر موږ په عمر هم يو څه مشر و. څرنګه چې د مرغيو دا کار و بار زموږ له کلي په بر کلي کي زيات دود و، نو ده موږ ته دا توصيه کوله چي بايد شور او زوږ ونه کړو، څو سايري د شپې تېرولو په موخه همدله پاتې شي او موږ يې د شپې په تياره کي د ګيس په واسطه ونيسو.
د ګيس په واسطه د سايرو د رانيولو دغه چل موږ ته نه راته. دا خو لا څه کوې چې موږ پدې لا هم نه پوهېدو چې سايرې به همداسي بې ځالي او بې کوره په ونو کي شپې تېروي. زموږ دا خيال و چې دوی به هم لکه د کورنيو مرغيو په شان خپلې ځالې، کورونه او بچي لري.
په کلي کي موږ ګيس لاره، خو ګيس د سايرو نيولو دپاره نه و، بلکې په چم ګاونډ کې به چې د چا کوژده، واده وو نو ګيس به يې په پور اخيسته، او يا چې به زموږ کره څوک نازولي مېلمانه راتلل، نو ګيس به يې ورته بلاوه. د ګيس روښانول هم په ټول کور کي زما دوه مشرانو ورونو ته ياد و، کور کې به هم همدوی روښانه کاوه، او د چم ګاونډ کوژدو، ودونو ته به هم له همدوی څخه يو ور سره تلل.
موږ ماشومان چې بر کلي وال هلک ښه ملايان کړو، چې څرنګه د ګيس تيزه رڼا يي لکه د سوجرې په څير د سايرو سترګي وړې، او ړندې، کښې يې بس موږ له ښاخونو په لاس راټولوو، نو ميندو ته مو د ګيس د پاره منت او زارۍ اړم کړې، له بده مرغه چې پدغه شپه ګيس بلوولو والا زما دواړه مشران ورونه په کور نه و.
تر ډيرو منت زاريو وروسته پدې وتوانېدو چې د ګيس اجازه تر لاسه کړو. او بيا يي په ډېرو خواريو او کړاوونو زه او يو بل کليوال ځوانکی د ميندو په مرسته روښانه کړو.
سره لدي چې جالۍ يې هغسي نه وه راغلې چې بايد وای او مشرانو ورونو چې به ترله. هم يې سم ځان نه و پړسولی، لکه پوچه شوي پوکانۍ اوږده يوه اړخ ته ځړېده. او هم يې يوې ډډې ته ووړ غونډي سوری شوی وو چې نرۍ نرۍ سره لمبه يې کوله، او ميندو وې چې ډېر دوام نه کوي او موږ بايد ژر تر ژره خپل کار پرې ختم کړو، چې جالۍ رژېږي.
پلان داسي جوړ سوی و چې زه به تر دي نورو مخکي په تياره کې ونې ته ور خېږم، دا نور به ګيس تر ځادر لاندې نيولی ونې ته رارسوي، بيا به همدا بر کلي وال هلک چې تر نورو به قد وچت دی ګيس ماته راکوي، زه به يې سايرو ته ورنېغوم، د سايرو سترګي به د ګيس رڼايي وړې، پدې کي به دی او دوه درې نور کليوال هلکان ونې ته را بره کېږي، او د خيره سره يوه يوه سايره به رانيسو، په جيبونو او بډو کې به يې په ځای کړو.
زه چې ونې ته را بره شوم، هغه د چا خبره مېږي هم په ونه واهه، ګيس چې تر ما رارسېده هم هيڅ پېښ نه شول، فقط يو دوه د سايرو اوازونه تر غوږ شول او بس، ما چې ګيس له پلان سره سم په ونه کې بره ناستو سايرو ته ور نېغ کړ، سم دم لکه د غاټولو په کرونده چې لمر ولګي، سره سره سرونه، ژېړ تور وزرونه، مښوکي تر وزرونو لاندې ټومبلې پدغه وخت کي پړت پړت يو دوه سايري د ګيس سره جوخت ښاخ نه والوتې، پدې منځ کي برکليوال هلک او يو دوه نور له پلان سره سم ونې ته په راختو دي چې د سايرو په نيولو لګيا شي، ما خو فقط او فقط په دواړو لاسونو ګيس بره نېغ نيولی، مه کوه چې د زردالو په ملا کې په يوه وړوکي ښاخګي يوه له بره پښه ايښې او بل له لاندې پرې را بره کېږي، چې درز شو، يو هلک بيا پرې د پاسه ښاخ او بيا پرې د پاسه بر کليوال لاندې په دوه وړو ماشومانو ور غوځار شول، سايري په خپله مخه لاړې او موږ له دريوو ټپيانو سره مخ په کور را روان شوو.

(بېکسيار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسيک خپرندويه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۳۱۳ ـ ۳۱۶ مخونه)

که څه هم ما ډېره هڅه وکړه چې دا کيسه لنډه کړم او ځينې جملې ترې ايسته کړم، خو دا کار راته ناشونی سو. د کيسې هره جمله له بلې جملې سره دومره طبيعي او ټينګ تړاو لري چې د يوې جملې ايستل هم د کيسې پر روان بهير او هم د هغې پر هنري ښکلا اغېز کوي.هماغه د پاس خبره سوه چې ادبيات د پېښو ساده راغونډول نه دي بلکه د اغېز يو هنري تنظيم دئ، همدا د بېکسيار د کيسې ويلو د هنر يوه مهمه ځانګړنه ده.

نور بيا

په وروستۍ برخه کي به د بېکسيار په نثر کي پر هيومنيزم بحث وکړو...

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ